**بسم الله الرحمن الرحيم**

## خلافت څرنګه سیاسي فشار او ځورونې له منځه وړي؟

دیموکراسي، د بیان آزادي، د زعیم ټاکنې حق او د زعیم محاسبه کولو حق، دا هغه شعارونه دي چې په ننني نړۍ کې د انسان په لاس جوړ شویو رژیمونو په اډانه کې یې خلک پورته او کښته کوي. خو د یادو شعارونو بطلان هغه وخت څرګند شو کله چې یو تن یا یوې ډلې دغه رژیمونه او د هغوی فساد تر نیوکې لاندې ونیوه یا یې له لاسه ورکړل شوي حق یا دندې غوښتنه وکړه. او کله چې دغه رژیمونه خلکو ته په چوپړ کولو کې پاتې راغلل لا تر نیوکې لاندې راغلل. د روسیې زندانونه چې له شوروي اتحاد څخه په میراث ورته پاتې دي، هر کال د مارچ ۱۰ مه د هغو قربانیانو د ورځ په نامه نمانځي چې له سیاسي شکنجې او ځورونې سره مخ شوي دي. یادو قربانیانو د سختو شکنجو له امله چې شوروي اتحاد پرې کولې، د نه خوړو اعتصاب کړی وو. د روسیې او اسلامي نړۍ لکه؛ مصر، سوریې، لیبیا، ازبکستان او نورو هیوادونو په زندانونو کې محبوسینو بېلابېلې سختې شکنجې او ځورونې تجربه کړې دي.

خلافت یو داسې معقول سیستم دی چې له هرڅه سره بلدتیا لري او یوه ریښتینې حللاره ده. خلافت د انسان په لاس جوړو شویو رژیمونو ته ورته نه دی. له همدې امله موږ په دغې لیکنه کې د ځورونې او سیاسي فشار د مخنیوي په تړاو په تفصیل سره بحث کوو، چې موږ یې دمګړۍ شاهدان یو:

1. خلافت یو څاروونکی دولت نه دی چې خلک به تر سخت څار لاندې نیسي او د دوی حرکتونه به څاري او په عامه او ان په شخصي ځایونو کې به کمرې لګوي، ترڅو خلک وڅاري. نه هم هغه دولت دی چې د خلکو تلیفونونه یا برېښنایي حسابونه، یا په ویبپاڼو کې د ټویټونو او خپرونو له امله به یې نیسي او شکنجه کوي به یې یا هم د سیاسي تړاو له امله خلک لادرکه کوي، لکه څرنګه چې یاده چاره اوس په اسلامي نړۍ کې روانه ده. اسلام د مسلمانانو څارل د دې آیت پر بنسټ منع کړې دي:

**﴿وَلَا تَجَسَّسُوا﴾**

**[الحجرات: ۱۲]**

*ژباړه: خلک مه څارئ*

دغه د څار یوه عمومي منع ده او دغه به دوام پیدا کوي خو دا چې یو استثنایي حالت وي. امام احمد او امام ابوداود له مقداد او ابوامامه رضي الله عنهما څخه روایت کوي چې دوی به ویل:

**«إِنَّ الأَمِيرَ إِذَا ابْتَغَى الرِّيبَةَ مِنَ النَّاسِ أَفْسَدَهُمْ»**

کله چې یو حاکم د خلکو پر ضد تورونه لګوي، دی هغوی فاسدوي

له همدې امله د خلکو څارنه او جاسوسي منع ده. دغه حکم د اسلامي دولت د ذمي اوسېدونکو په تړاو هم د پلي کېدو وړ دی. ځکه نو د مسلمانانو او نامسلمانانو څارنه او جاسوسي حرامه ده.

اسلام همدارنگه د خلکو ځورونه او دوی ته زیان رسول منع کړي دي. امام مسلم له هشام ابن حزام څخه روایت کوي دی وایې: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واورېدل چې ویل یې:

**«إِنَّ اللهَ يُعَذِّبُ الَّذِينَ يُعَذِّبُونَ النَّاسَ فِي الدُّنْيَا»**

الله سبحانه وتعالی به هغه څوک وځوروي چې په دې دنیا کې خلک ځوروي

د الله رسول صلی الله علیه وسلم همدارنگه وویل:

**«صِنْفَانِ مِنْ أَهْلِ النَّارِ لَمْ أَرَهُمَا، قَوْمٌ مَعَهُمْ سِيَاطٌ كَأَذْنَابِ الْبَقَرِ يَضْرِبُونَ بِهَا النَّاسَ»**

(راوي: امام مسلم)

په دوزخ کې دوه ډوله خلک دي چې ما تر اوسه نه دي لیدلي: خلک به غوا ته ورته لکۍ لري، دا به هغه متروکه/وسیله وي چې دوی په دنیا کې خلک پرې وهل...

اسلام د مسلمانانو پر ناموس، عزت، شتمنۍ او کورونو برید حرام کړی دی. د الله رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ دَمُهُ وَمَالُهُ وَعِرْضُهُ»**

د یوه مسلمان وینه، پیسي او عزت د بل مسلمان لپاره حرام دي

2. د خلافت تر چتر لاندې خلک حق لري چې خپل ږغ پورته او نظر څرگند کړي، چارواکي تر محاسبې لاندې ونیسي او که د دوی حقونه نه ورکوي، خپلې دندې په ښه توگه نه ترسره کوي، په دندو کې ناغیرې کوي، د اسلام له حکمونو څخه سرغړونه کوي یا د الله سبحانه و تعالی پر نازل شوي حکم فیصله نه کوي، بدل یې کړي. خلک په یوازې تن، د امت شورا یا د شته حزبونو له لارې حق لري چې یاد کار وکړي. الله سبحانه وتعالی مسلمانان مکلف کړي چې امر په نېکۍ او له بدۍ څخه منع وکړي، هغه سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ﴾ [الحج: ۴۱]**

*ژباړه: دوی هغه څوک دي چې که په ځمکه کې واک ورکړل شي، دوی لمونځونه کوي، زکات ورکوي، نیکۍ ته امر او له بدۍ څخه منع کوي.*

او په ځینو حدیثونو کې په ځانگړې توگه د حاکم د محاسبې یادونه شوې ده. امام مسلم له ام سلمه رضي الله عنها څخه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل:

**«سَتَكُونُ أُمَرَاءُ فَتَعْرِفُونَ وَتُنْكِرُونَ، فَمَنْ عَرَفَ بَرِئَ، وَمَنْ أَنْكَرَ سَلِمَ، وَلَكِنْ مَنْ رَضِيَ وَتَابَعَ» قَالُوا: أَفَلا نُقَاتِلُهُمْ؟ قَالَ: «لا، مَا صَلَّوْا»**

چارواکي به وي چې تاسې به د دوی ښې کړنې خوښوئ او له بدو کړنو څخه به مو يې کرکه کېږي. هغه څوک چې د چارواکو بدې کړنې ويني او د هغوی د مخنيوي هڅه کوي، دوی ګنهکار نه شمېرل کېږي، هغه څوک چې د چارواکو بدې کړنې ويني او په زړه کې ترې کرکه کوي او د هغوی د مخنيوي توان ونلري، هغوی هم په امن کې دي. خو هغه څوک چې د دوی پر کړنو خوښ شي او د هغوی تقليد کوي، هغوی زيانمن شول.» دوی (اصحابو) پوښتنه وکړه: « ايا موږ بايد له دوی سره جګړه ونکړو؟» ده صلی الله عليه وسلم ځواب ورکړ: «نه، تر هغه وخت چې دوی لمونځ کوي» او لمونځ دلته د اسلام د حاکميت لپاره نښه ده.

پيغمبر صلی الله عليه وسلم له ظالم حاکم سره پر جګړه ټينګار کړی دی ان که د زيان لامل شي او حتا که د ياد کس د وژنې لامل وګرځي، دی صلی الله عليه وسلم په دې اړه فرمايي:

**«سَيِّدُ الشُّهَدَاءِ حَمْزَةُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ وَرَجُلٌ قَامَ إِلَى إِمَامٍ جَائِرٍ فَأَمَرَهُ وَنَهَاهُ فَقَتَلَهُ»**

د شهيدانو سردار حمزه بن عبدالمطلب دی او هغه څوک دی چې د ظالم پادشاه پر وړاندې درېږي، په نيکۍ يې امر او له بدۍ څخه يې منع کوي او بيا يې بادشاه ووژني.

دغه له ډېرو اغېزمنو ويناوو څخه ده چې يو څوک حق وايي او د مرګ تر بريده زيان زغمي د دې لپاره چې چارواکي محاسبه کړي او د ظالمو چارواکو پر ضد مبارزه وکړي.

په اسلامي تاريخ کې ګڼ اسناد او شواهد شته چې مسلمانانو خپل چارواکي محاسبه کړي، له دوی څخه يې د خپل حق غوښتنه کړې او دوی هم انکار نه دی کړی. خلکو عمر بن خطاب رضي الله عنه د يمني جامو په اړه محاسبه کړ. همدارنګه بلال او زبير رضي الله عنهما د هغو کسانو له ډلې څخه وو چې پر عمر رضي الله عنه باندې يې نيوکه وکړه او له ده سره يې لفظي شخړه وکړه، د هغو ځمکو په اړه چې په عراق کې فتح شوې وې او ده رضي الله عنه نه وې وېشلې؛ عمر رضي الله عنه له اصحابو رضي الله عنهم سره خبرې او سلا مشورې وکړې، تر دې چې د هغوی د نظرونو تر اخيستلو وروسته دی راضي شو. همدارنګه حضرت علي رضي الله عنه د مسلمانانو دې خليفه حضرت عثمان رضي الله عنه هغه نظر چې د حج او عمرې په بشپړېدو پورې تړلی و، رد کړ.

3. د خلافت تر چتر لاندې د امت شورا د خلکو استازيتوب کوي او د دوی انديښنې په سمه توګه منعکسوي، نه په خيالي توګه. د امت شورا د خلکو په استازيتوب د دوی نظرياتو ته انعکاس ورکوي، د دوی شکاياتونه اوري، خليفه او نور ټول مسوول چارواکي محاسبه کوي. مسلمانان، نامسلمانان، نارينه او ښځې د يادې شورا د غړيتوب حق لري، د حزب التحرير اساسي قانون مسودې ۱۰۷ ماده ياد موضوعات تشريح کوي:

« هر هغه تبعه چې بالغ، عاقل، نر يا ښځه، مسلمان يا نامسلمان وي؛ دامت شورا يا ولايتي شورا د غړيتوب حق لري. خو نامسلمان غړی يوازې د خلکو دې شکايت اورېدلو، د چارواکو د ظلم او د اسلامي قوانينو په ناسمه توګه پلي کولو په تړاو غبږ پورته کولی شي.»

4. د خلافت په اډانه کې قضايه قوه د خلکو د ځورولو او ځپلو وسيله نه ده، خلک له خپلو طبيعي حقونو څخه ګټه اخلي او نظريات څرګندوي، د خلکو د سياسي تړاو له امله د دوی پر ضد د تورونو مخنيوی کوي او د دوی پر ضد د ناعادلانه سزاګانو مخنيوی کوي، نه هغسې چې د ۲۰۱۹م د فبروري پر ۱۹ په مصر کې له نهو تنو ځوانانو تر برقي ځورونې لاندې اقرار واخيستل شو. سربېره پردې محکمه د رېښتنولی، عدالت او ښتن ته د حقونو ګرځولو سمبول دی. د دولت د هيڅ چارواکي او کارکوونکي لپاره مصونيت نشته. د خليفه يا د چارواکو پر ضد د قضيې اورېدلو ځانګړې محکمه يانې د مظالمو محکمه شتون لري. په داسې حال کې چې د مظالمو محکمه دنده لري «چې د الله سبحانه وتعالی قانون د زور پر مټ پلی کړي؛ د خليفه او اتباعو ترمنځ يا د ده د واليانو يا کارکوونکو ترمنځ د شخړې په تړاو يا هغه توپير چې د مسلمانانو ترمنځ د يو شرعي متن په تفسير کې وي چې دوی هغه د پرېکړې او فيصلې لپاره کاروي، حل وفصل کړي» (په خلافت کې د دولتي بنسټونو د حکم او ادارې برخه )

د اسلامي تاريخ په اوږدو کې د مسلمانانو خليفه له خپلو اتباعو سره يوځای محکمې ته حاضر شوی او قاضي د مدعي په پلوی پرېکړه کړې او خليفه يې محکوم کړی. د حضرت عمر ابن خطاب رضي الله عنه هغه کيسه چې يو چا غوښتل له ده څخه اسونه وپيري ډېره مشهوره ده، همدارنګه د هغه قاضي چې له عمر بن عبدالعزيز څخه يې غوښتنه وکړه چې خپل پوځ له هغه هيواد څخه وباسي چې دوی فتح کړی و، ځکه چې له اسلامي دعوت څخه مخکې ده پوځ ته د جهاد امر کړی و او نورې ورته کيسې چې کولی شو اشاره ورته وکړو.

5. د خلافت تر چتر لاندې د سياسي ګوندونو تاسيسول په دولت کې نه دي منع، په دې شرط چې د ګوند اساس به اسلام وي او د دغو ګوندونو تاسيسول د دولت اجازې ته اړتيا نلري. د حزب التحرير اساسي قانون مسوده ۲۱ مه ماده وايي: «مسلمانان حق لري چې سياسي ګوندونه جوړ کړي، ترڅو چارواکي محاسبه کړي يا د امت له لارې واک ترلاسه کړي په دې شرط چې د ګوند اساس اسلامي عقيده وي او هغه احکام چې دوی غوره کړي وي، شرعي احکام وي. د ګوند جوړول هيڅ اجازې ته اړتيا نلري. هره ډله چې پر غير اسلامي بنسټ جوړېږي، منع ده.» د دې چارې لپاره ثبوت د الله سبحانه وتعالی هغه ايات دی چې فرمايي:

**﴿وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾**

**[الاعمران: ۱۰۴]**

*ژباړه: او حتمي ده چې په تاسو کې دې یوه داسې ډله وي چې د نېکۍ لوري ته بلنه کوي او په نېکۍ حکم کوي او له بدۍ څخه منع کوي او همدغه خلک بشپړ کامیاب دي.*

یاد ایت د سیاسي گوندونو د جوړولو لپاره یو داسې سند دی چې الله سبحانه وتعالی مسلمانانو ته امر کړی، چې یوه ډله د اسلامي دعوت مخ ته وړولو په موخه جوړه کړي او همدارنگه امر په نېکۍ او له بدۍ څخه منع وکړي.

6. د خلافت حاکمیت په شریعت او واک په امت پورې تړاو لري. امت خپل حاکم ټاکي، په کتاب الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتو باندې به په دې شرط له خلیفه سره بیعت کوي، چې پر دوی به شریعت پلی کوي. حاکم پر دوی باندې نه تپل کېږي چې د خپل بادار اراده پر دوی پلې کړي، لکه څرنگه چې اوس په اسلامي هیوادونو کې همدا حالت روان دی. د خلافت دولت ریښتینې سیاسي اراده لري او سیاست په هغه خپله سمه مانا سره پلی کوي، د خلکو د چارو پالنه کوي، خلک تر ستوني نه نیسې او نه خلک ځوروي او نه هم پرې ظلم کوي. د خلافت په اډانه کې حاکم او اتباع دواړه د شریعت تابع دي او اتباع حاکم ته په دې شرط تابع دي چې حاکم به د شریعت احکامو ته غاړه ږدي:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلاً﴾**

**[النسا: ۵۹]**

*ژباړه: اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی! د الله خبره ومنئ او د رسول خبره ومنئ او د خپلو امیرانو خبره ومنئ، نو که تاسو په خپلو کې د څه شي په هکله جگړه وکړئ، نو هغه (شی) الله او د هغه رسول ته وړاندې کوئ. که تاسو په الله او په ورځ د اخرت ایمان لرئ، دا (کار) ډېر غوره دی او پایله یې ډېره ښه ده.*

په پای کې زه خپلې هغې خبرې ته بیا راگرځم چې زما د لیکنې پیلامه وه، چې راشده خلافت د پیغمبر صلی الله علیه وسلم پر طریقه نه یوازې د امت بلکې د ټول بشریت لپاره بنسټیزه حللاره ده. خلافت د هغو هوښیارانو خلکو یو کمساری ښېل نظام دی چې له هر څه سره بلدتیا لري. ایا د خلافت له شتون پرته دا ۹۸ کلنه نابرابري، ظلم او بدمرغي بس نه ده؟ ایا موږ باید د خلافت د تاسیس لپاره خپل هوډ پیاوړی او بیړه ونکړو؟!

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**لیکوال: براه منصره**